مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۹۷** (از ۲۹ قوس الی ٦ جدی ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### افغانستان و پاکستان؛ مبارزۀ مشترک با تروریسم

- جنایتی توجیه ناپذیر ........ ۳
- طالبان خوب، طالبان بد ........ ۴
- از وزیرستان تا سریلانکا ........ ۵
- امکان عملیات نظامی مشترک میان دو کشور ........ ۵

### د طالبانو په تړاو د پاکستان پالیسي او وروستي دریځونه

- د پاکستاني طالبانو په اړه د پاکستان د پالیسی بدلون ........ ٦
- "پاکستان بدل شوی دی!" ........ ۹
- د افغان طالبانو په اړه د پاکستان ستراتېژي ........ ۱۰

### له پاکستانه د افغان کډوالو اجباري ایستل

- شالید ........ ۱۱
- د کډوالی نړیوال قانون او پاکستان ........ ۱۲

## مقدمه

د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحليل په دې ګڼه کې، د پاکستاني او افغان طالبانو په اړه د پاکستان په پاليسۍ کې د بدلون او وروستيو درېځونو، له افغان حکومت او په افغانستان کې مېشتو ناټو ځواکونو سره د پوځي عملياتو د همغږۍ او له دغه هېواده د افغان کډوالو په زوره ايستلو په تړاو، د مرکز د څېړنيزې څانګې شننې لولئ.

د پاکستان په پېښور ښار کې پر يوه پوځي ښوونځي د پاکستاني طالبانو له خونړي بريد وروسته، د دغه هېواد د ملکي حکومت او پوځ په درېځونو کې ځرګند بدلون ترسترګو شو او لومړي وزير نوازشريف خپل ملت ته له دې پېښې وروسته د سخت درېځو وسله والو په تړاو خپله تګلاره بيان کړه.

له دې پېښې وروسته سملاسي د پاکستان لوی درستيز او د ای اس ای مشر کابل ته راغلل او له افغان چارواکو سره يې د ګډو عملياتو د همغږي کولو په تړاو خبرې وکړې، چې وروسته د افغانستان لوی درستيز هم هغه هېواد ته سفر وکړ او د وسله والو طالبانو پر ضد يې پر ګډې مبارزې هوکړه وکړه.

له بلې خوا د پېښور له بريد وروسته د پاکستان حکومت د افغان کډوالو د ستنولو هوډ هم کړی او د وتلو لپاره يې يوه مياشت ضرب الاجل ورته ټاکلی دی.

د پاکستان په پاليسۍ کې کوم بدلونونه راغلي؟ او دا چې د پاکستاني طالبانو په اړه د پاکستان ستراتېژي بدله شوې، ايا د افغان طالبانو په اړه به هم د پاکستان په پاليسۍ کې څه بدلون راشي؟ همدا راز له پاکستانه د افغان کډوالو په زوره ايستل کومې انګېزې او پايلې له ځان سره لري؟ لاندې پر همدغو موضوعاتو د شننو تفصيل لولئ:

## افغانستان و پاکستان؛ مبارزۀ مشترک با تروریسم



روز ۱۶ دسامبر در تاریخ پاکستان روز ناخوش‌آیندی است. در ۱۶ دسامبر ۱۹۷۱ نیروهای پاکستان در پاکستان شرقی در جنگ شکست خوردند و جنرال نیازی سلاح خود به فرمانده نیروهای هندوستان جنرال (ارورا) تسلیم نمود.

اگر به تصادف معتقد باشیم می‌بینیم که تصادفا ۴۳ سال بعد درست در همین روز یعنی ۱۶ دسامبر ۲۰۱۴ چند تن جنایت‌کار تحت نام اسلام و جهاد به یک مکتب در ورسک رود پیشاور حمله کردند و ۱۴۱ شاگرد و معلم را به شمول مدیر مکتب که یک زن بود، کشتند.

گروه اصلی طالبان پاکستانی برهبری ملا فضل الله مسؤولیت این کشتار را بعهده گرفت و سخنگوی این گروه اعلام داشت که آنها این کار را به انتقام کشته شدن اطفال و مردم غیرنظامی در وزیرستان بدست نیروهای پاکستانی انجام داده‌اند.

پس بیجا نیست اگر رسانه‌های پاکستان و سیاستمداران این کشور این واقعه را دردناک‌ترین خاطره در ذهن تاریخ پاکستان معاصر بعد از سقوط داکه خواندند.

### جنایتی توجیه ناپذیر:

حتی در صورتی که نیروهای پاکستانی دست به کشتار مردم بی‌گناه در عملیات وزیرستان زده باشند، دست زدن به عمل متقابل و کشتار کسانی که هیچ رابطه‌ای با آن کشتار و جنگ نداشته‌اند، با هیچ معیاری پذیرفتنی نیست و جنایتی توجیه ناپذیر است. این کار به معنای برسمیت شناختن جنایات امریکایی‌هاست که به نام انتقام از قربانیان واقعۀ یازدهم سپتامبر به افغانستان و سایر کشورهای اسلامی لشکر کشیدند و خون صدها هزار مسلمان بی‌گناه را که اصلا رابطه‌ای با واقعۀ یازدهم

سپتامبر نداشتند، ریختند. کسانی که بی‌گناهان را در مکتب پشاور کشتند، نه تنها خود جنایت عظیمی را مرتکب شدند، بلکه به نحوی جنایات امریکا بعد از یازدهم سپتامبر را هم قابل توجیه بشمار آوردند.

## طالبان خوب، طالبان بد:

رسانه‌های پاکستان از سیاست‌های قبلی دولت پاکستان در برابر طالبان انتقاد می‌کنند و حتی خود نوازشریف هم می‌گوید که «طالبان خوب» و «طالبان بد» معنی ندارد و علیه همهٔ آنان عملیات صورت خواهد گرفت. تحلیلگران پاکستانی به این باور اند که اصطلاح طالبان خوب و بد را مولانا فضل الرحمن و مولانا سمیع الحق ابداع کردند. در ماه فبروری امسال یکی از اعضای اسامبلهٔ ملی پاکستان و از جناح مسلم لیک (ن) بنام جاوید ابراهیم پراچه گفت که ما با طالبان «محب وطن» مشکل نداریم. هرچند امروز رسانه‌های پاکستان تحت تاثیر واقعهٔ دلخراش پیشاور به موضع گیری‌های سابق رهبران سیاسی این کشور انتقاد می‌کنند، اما یک اشتباه دیگر مقامات پاکستانی نیز در این رابطه قابل دقت است:

زمانیکه بعد از حملهٔ امریکا به افغانستان، طالبان افغان به مناطق قبایلی پاکستان پناه بردند، به تدریج تحریک طالبان پاکستان بعنوان زیرمجموعهٔ طالبان افغان شکل گرفت. از همان آغاز، آی اس آی تلاش نمود تا از یک پارچه شدن طالبان پاکستانی جلوگیری نماید. فوج پاکستان با بعضی از آنها قرارداد صلح بست و با بعضی به جنگ پرداخت. امروز طبق یک آمار، طالبان پاکستانی به ۲۴ گروه تقسیم شده‌اند که از آن جمله سه گروه بزرگتر است.

زمانی تعدد این گروهها مشکل آفرین شد که دولت پاکستان خواست با آنها مذاکرات صلح را آغاز نماید. تعدد گروهها موجب شد تا گروه‌های کوچک و تندرو شرایطی را مطرح سازند که برای دولت پاکستان قابل قبول نبود. در نتیجه این مذاکرات به شکست مواجه گردید؛ زیرا گروه‌های تندرو حتی خواهان لغو قانون اساسی پاکستان بودند.

از جانب دیگر این تعدد گروهها موجب شد تا دست‌های مرموز با استفاده از جهالت و حماقت بعضی از آنها، توسط آنان جنایات هولناکی را انجام دهند و رهبری طالبان هم برای نمایش خود بعنوان یک گروه منسجم و قدرتمند، و به منظور اجتناب از اینکه گروهی منشعب و درگیر اختلافات داخلی به شمار آید، دربرابر اینگونه جنایات خاموش باقی ماند و به این ترتیب بار تمام این جنایات را بدوش گرفت. در نتیجه آنانی که از این گروه حمایت می‌کردند، از آنان روگردانیدند بحدی که امروز حتی کسانی چون حافظ سعید رهبر لشکر طیبه هم خواهان اعدام زندانیان طالب است.

## از وزیرستان تا سریلانکا:

در رابطه به واقعهٔ پیشاور، سیاستمداران پاکستانی همه باهم متحد شدند. آنها می‌گفتند که وقتی سریلانکا توان از میان بردن ببرهای تامیل را داشت و توانست در جنگ با آنها پیروز گردد، ما نیز می‌توانیم به این هدف برسیم. سوال اینست که آیا براستی شرایط پاکستان و سریلانکا با هم مشابه است؟

ببرهای تامیل درگیر یک جنگ جبههای در یک شبه جزیره بودند که امکان محاصرهٔ شان موجود بود. با وجود چنین محدودیت، جنگ آنها با دولت مرکزی ۲۶ سال طول کشید. اما پناهگاه‌های طالبان در مناطق کوهستانی میان افغانستان و پاکستان است که به آنها امکان فرار از محاصره و عبور از یک کشور به کشور دیگر را می‌دهد.

بنابراین اگر پاکستان واقعا قصد ریشه‌کن کردن این مشکل را داشته باشد، این کار به تنهایی توسط ارتش این کشور ممکن نیست. شاید به همین دلیل است که فردای واقعهٔ پیشاور، جنرال راحیل شریف و جنرال رضوان اختر رئیس آی اس آی راهی کابل شدند. نوازشریف در کنفرانس مطبوعاتی ۱۷ دسامبر خویش گفت که در مورد مبارزهٔ مشترک با تروریسم با اشرف غنی به توافق دست یافته است.

## امکان عملیات نظامی مشترک میان دو کشور:

به نظر می‌رسد که دولت پاکستان قصد دارد بصورت همزمان در سوی دیورند عملیات نظامی علیه طالبان توسط نیروهای مسلح دو کشور افغانستان وپاکستان براه بیافتد. مقامات پاکستانی وضاحت داده‌اند که نیروهای نظامی دو کشور داخل خاک طرف مقابل نخواهند شد.

تاکنون نظر رسمی حکومت افغانستان در این خصوص مشخص نیست، اما به نظر می‌رسد که پاکستانی‌ها بیشتر خواهان عملیات در کنر هستند که گفته شده مولوی فضل الله رهبر طالبان پاکستان در آنجا پناه گرفته است.

فضای عدم اعتماد میان افغانستان وپاکستان در طول سال‌ها، رسیدن به یک توافق میان دوکشور را در کوتاه مدت را دشوار ساخته است. در دیدار اخیر راحیل شریف از کابل، وی شواهدی مبنی بر استفاده از خاک افغانستان برای حملهٔ اخیر در پیشاور را در اختیار مقامات افغان نهاد. چنین شواهد را افغانستان هم بارها در اختیار مقامات پاکستانی نهاده‌اند که از جانب آنها رد شده است.

نوازشریف صدراعظم پاکستان گفت که دو کشور افغانستان و پاکستان در مورد عملیات مشترک علیه طالبان در دو سوی دیورند به توافق رسیده‌اند، اما دولت افغانستان می‌گوید که فقط روی هماهنگی در عملیات‌ها میان نیروهای دو کشور در دو سوی دیورند توافق شده است.

بنابراین هنوز هم سایهٔ بحران اعتماد در روابط دو کشور گسترده است و اگر جریانات اخیر توانسته باشد حتی موجب هماهنگی در عملیات نظامی میان دوطرف گردد، بازهم دست‌آوردی مغتنم خواهد بود.

## د طالبانو په تړاو د پاکستان پالیسي او وروستي دریځونه



په پېښور کې پر پوځي ښوونځي له خونړي برید او څو میاشتې مخکې د کراچۍ پر هوایي ډګر د برید له کبله په پاکستان کې سیاسي ګوندونه په تېره بیا تحریک انصاف، مسلم لیګ "ن"، جماعت اسلامي او نور مذهبي ګوندونه په دې اند وو، چې د تروریزم پر ضد جګړه د پاکستان خپله جګړه نه ده، بلکې پاکستان دې جګړې ته د امریکا لپاره او د امریکا د فشار له امله ورګډ شوی؛ ځکه نو په کار ده، چې د طالبانو پرضد د پوځي عملیاتو پر ځای باید له هغوی سره خبرې اترې وشي.

د کراچۍ پر هوایي ډګر له برید مخکې په پاکستان کې ډېری سیاسي شنونکو د سولې پر تګلاره ټینګار کاوه؛ خو کله چې د کراچۍ پر هوایي ډګر برید وشو، نو د پاکستان سیاسي ګوندونو هم زړه نازړه په وزیرستان کې د پاکستاني پوځ له "ضرب عضب" عملیاتو څخه ملاتړ وکړ؛ خو د پېښور له وروستۍ پېښې سره په پاکستان کې د طالبانو پرخلاف کرکه زیاته شوه؛ ان تر دې چې د پاکستان لومړي وزیر نوازشریف ښارونو او کلیوالو سیمو ته هم د "ضرب عضب" عملیاتو غځول اړین وبلل.

### د پاکستاني طالبانو په اړه د پاکستان د پالیسۍ بدلون:

د ۲۰۱۳ کال په ټولټاکنو کې په اسلام اباد کې د نوازشریف او په خیبر پښتونخوا ایالت کې د عمران خان د ګوند په بریالي کېدو سره، له طالبانو سره د سولې خبرې اترې ګرندۍ شوې. د خبرو اترو لپاره څو کسیزه کمېټه جوړه شوه، چې د "جمعیت علمای اسلام" د ګوند مشر مولانا سمیع الحق، د جماعت اسلامي ګوند مشر پروفیسر ابراهیم او ځینې نور بانفوذه کسان پکې شامل وو.

دغې څو کسیزې کمېټې له حکومت سره د طالبانو په استازیتوب او بیا له طالبانو سره خبرې اترې پیل کړې، چې دغه خبرې ترڅو میاشتو پورې روانې وې؛ مګر د ۲۰۱۴ کال د جون په ۹مه د کراچۍ پر هوايي ډګر د برید له امله، چې پړه يې پاکستاني طالبانو په غاړه واخېسته، دا خبرې بېرته په ټپه ودرېدې. د دې ترڅنګ په غبرګون کې د پاکستان پوځ د ۲۰۱۴ کال د جون په ۱۵مه د پاکستاني طالبانو پرخلاف په وزیرستان کې عملیات هم پیل کړل، چې لاهم روان دي او تراوسه د پوځ د ویاند په وینا، ۲۱۰۰ تنه طالب جنګیالي پکې وژل شوي دي.

د دې ترڅنګ په دغه هېواد کې ځینې نور سیاسي ګوندونه د پوځ له نظامي عملیاتو سره موافق نه وو او په دې نظر وو، چې قضیه باید د خبرو اترو له لارې حل شي؛ مګر د پېښور له پېښې وروسته نه یوازې دا چې د پاکستان د حکومت په پالیسۍ کې څرګند بدلون ترسترګو شو، بلکې پوځ، سیاسي ګوندونه او ملت ټول د طالبانو پر ضد په نظامي عملیاتو سره همغږي شول.

د پاکستان حکومت، پوځ او سیاسي ګوندونو له دې مخکې د پاکستاني طالبانو پر وړاندې متذبذبه پالیسي درلوده، کله به يې پر ضد ستر نظامي عملیات پیل کړل او کله به يې د سولې تړونونه ورسره کول. همدا راز ځینې سیاسي ګوندونو به له پاکستاني طالبانو سره د سولې په خبرو نیوکې کولې او ځینې نورو به بیا پر پوځي عملیاتو نیوکې کولې.

له وروستۍ پېښې وروسته پاکستان لاندې پرېکړې وکړې:

1. د تروریزم پرخلاف د ګډې ستراتیژۍ جوړول.
2. له اعدامونو بندیز لرې کول.
3. په نظامي عملیاتو کې چټکوالی.
4. د پوځي محکمو جوړول.
5. له افغان حکومت او ناټو سره ګډې همکارۍ.

### 1. د تروریزم پرخلاف ګډه ستراتیژي:

په پېښور کې وروستۍ برید داسې مهال وشو، چې د تحریک انصاف ګوند په انتخاباتو کې د درغلیو له کبله د حکومت پر ضد په لاریونونو بوخت و او د لاریونونو ۱۲۵مه ورځ يې وه؛ خو له دې پېښې سره تحریک انصاف ګوند هم خپل لاریونونه بند کړل او د ګوند مشر عمران خان په پېښور کې د ټولو ګوندونو په یوه کنفرانس کې هم، چې مشري يې لومړي وزیر نواز شریف کوله، ګډون وکړ.

په دغه کنفرانس کې له ټولو سیاسي ګوندونو څخه یو-یو کس وټاکل شو او د نظامي او استخباراتي ارګانونو د استازو په شمول یوه کمیټه جوړه شوه، چې په یوه اونۍ کې به د تروریزم پر ضد یو پلان جوړوي او لومړي وزیر ته به یې سپاري.

د دغې کمېټې د پلان له مخې به د پاکستاني طالبانو پر ضد جامع کاري تګلاره جوړېږي، مطبوعات به د هغوی خبرې په تازه خبرونو کې نه خپروي او نه یوازې دا چې د هغوی پرضد به عملیات کېږي بلکې له ملاتړ کوونکو سره به یې هم ورته چلند کېږي.

### 2. له اعدام څخه بندیز لرې کول:

د پاکستان لومړي وزیر له دې پېښې وروسته په پاکستان کې پر اعدام لګېدلی بندیز لرې کړ او سملاسي یې شپږ تنه اعدام کړل. د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر چوهدري نثار علي خان په وینا، په نژدې ورځو کې به ګڼ شمېر نور هغه کسان هم اعدام شي، چې په ورانکارو فعالیتونو او ورته پېښو کې یې لاس درلود.

### 3. په پوځي عملیاتو کې چټکوالی:

د پېښور له پېښې لا ۲۴ ساعتونه نه وو پوره شوي، چې د پاکستان اردو په قبایلي سیمو کې د پاکستاني طالبانو پر ضد ۵۷ هوایي بریدونه وکړل او په خیبر ایجنسۍ کې یې "خیبر-یو" عملیات هم ګړندي کړل.

### 4. د پوځي محکمو جوړول:

د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر چوهدري نثار علي خان تر سرپرستۍ لاندې کومیټه کې د پوځي محکمو خبره هم وشوه، چې له مخې به یې له هغه چا سره، چې د پوځ پرخلاف په کړنو کې ښکېل وي، د پوځي قانون له مخې چلند کېږي. که څه هم له دې سره د پاکستان درې ګوندونه (نیشنل عوامي ګوند، ایم کیو ایم او جماعت اسلامي) مخالف دي؛ خو بیا هم د پاکستان درې لوی ګوندونه (مسلم لیګ "ن"، پیپل او تحریک انصاف) د دې ګام ملاتړ کوي. د پاکستان په اساسي قانون کې هم په دې اړه څه نشته؛ ځکه نو د دې پرېکړې لپاره په قانون کې د تعدیل اړتیا هم ده.

### 5. له افغان حکومت او ناټو سره په نظامي عملیاتو کې همغږي:

د پېښور د پېښې په ورځ د پاکستان لوی درستیز راحل شریف او د آی اېس آی مشر رضوان اختر، سملاسي کابل ته راغلل او له ولسمشر اشرف غني، د ناټو له عمومي قوماندان او د افغانستان له لوی درستیز سره یې وکتل. ویل کېږي چې راحل شریف اشرف غني ته داسې شواهد ورکړي، چې د دغو عملیاتو پلان د افغانستان په خاوره کې جوړ شوی و.

له همدې امله راحل شريف له اشرف غني او له ناټو ځواکونو څخه وغوښتل، چې د پاکستاني طالبانو پرخلاف عمليات وکړي.

افغان ځواکونو هم له څو ورځو راهيسې د کونړ په دانګام ولسوالۍ کې پراخ عمليات پيل کړي، چې په پاکستاني رسنيو کې دغو عملياتو ته په ښه سترګه کتل کېږي او د افغانستان د نوي حکومت او پاکستان ترمنځ يې د ښې همکارۍ د ثبوت په توګه وړاندې کوي.

## "پاکستان بدل شوی دی!"

د روانې ميلادي مياشتې دسامبر په ۲۴مه نواز شريف خپل ملت ته د وينا او د تروريزم پر ضد د تګلارې بيانولو پر مهال وويل، چې پاکستان نور بدل شوی دی! نوموړي په دې وينا کې د تروريزم پر ضد خپله کاري تګلاره روښانه کړه. ده په ۲۱ ټکو کې خپله دا تګلاره خلاصه کړه، چې مهم ټکي يې په لاندې ډول وو:

- حکومت به هغه کسان اعداموي، چې د ورانکارو فعاليتونو له کبله د اعدام په سزا محکوم شوي وي.
- ځوک چې په ورانکارو کړنو کې ښکېل وي، د پوځي قانون له مخې به چلند ورسره کېږي.
- د هغو ادبياتو او اخبارونو پرخلاف به، چې کرکه او مذهبي تفرقه اچوي، جدي ګامونه پورته کېږي.
- ديني مدرسې به راجستر کېږي.
- د ورانکارو کسانو په مشهورېدو به بنديز لګېږي.
- بې کوره خلک به بېرته خپلو کورونو ته ستنېږي او په قبايلو کې به د بيارغونې کارونه چټکېږي.
- په ټولنيزو شبکو (لکه فېسبوک او ټويټر) کې به هم د ورانکارو کړيو فعاليتونه بندېږي.
- د پنجاب په ځينو سيمو کې به هم د سخت دريځۍ پر ضد ګامونه اوچتېږي.
- په کراچۍ کې روان عمليات به بشپړېږي.
- د افغان کډوالو د بېرته ستنېدو لپاره به جامع پلان جوړېږي.

## د افغان طالبانو په اړه د پاکستان ستراتېژي:

که څه هم د پاکستاني طالبانو پر خلاف د پاکستان په ستراتېژۍ کې له وروستۍ پېښې سره څرګند بدلون راغی؛ خو پوښتنه دا ده چې ایا پاکستان به د افغان طالبانو په تړاو هم ورته پالیسي خپله یا عملي کړي او کنه؟

په افغانستان کې د نوي حکومت له راتګ سره، کابل له اسلام اباد سره د اړیکو یو نوی باب پرانېست. ولسمشر اشرف غني له اسلام سره د پخواني افغان حکومت خلاف نرم دریځ خپل کړ، چې له کبله یې د اسلام اباد ډېرې اندېښنې هم ختمې شوې او اوس تر ډېره د افغان حکومت هڅو ته د قدر په سترګه ګوري.

د پاکستان په تړاو د ولسمشر غني له نرم دریځ او په وروستي سفر کې پاکستان ته له ورکړو امتیازاتو داسې ښکاري، چې ښایي اشرف غني ته د پاکستان له لوري لاندې ژمنې ورکړل شوې دي:

**لومړی:** یا خو به پاکستان افغان طالبان د افغانستان له حکومت سره سولې ته چمتو کوي او یا به هم ورته عملیات د افغاني طالبانو پر ضد هم ترسره کوي، په تېره بیا د حقاني د شبکې پرضد.

**دویم:** پاکستان به افغان طالبان نه پرېږدي، چې د پاکستان له خاورې په افغانستان کې بریدونه تنظیم کړي.

په دې اړه نوازشریف هم په خپله وروستۍ وینا کې وویل، چې چا ته به اجازه ورنه کړي چې د پاکستان خاوره د افغانستان پرضد وکاروي او که څوک داسې وکړي، د پاکستان د حکومت له سخت چلند سره به مخ شي.

د پاکستان د لومړي وزیر له دریځ او د دغه هېواد د جګپوړو چارواکو له وروستیو سفرونو او همدا راز د افغان چارواکو له څرګندونو داسې جوتېږي، چې پاکستان د افغان طالبانو په تړاو هم د خپلې پالیسۍ د بدلون په درشل کې دی او اوس افغان چارواکي هم په دې تمه دي، چې په راتلونکو میاشتو کې د پاکستان په پالیسۍ کې بدلون وګوري.

## له پاکستانه د افغان کډوالو اجباري ایستل



د کډوالۍ بهیر او د وګړو بې ځایه کېدل په ټولیز ډول دوه لاملونه لري؛ لومړی: جګړې او کړکېچونه. دویم: طبیعي پېښې. که معاصر سیاسي تاریخ ته ځیر شو، نو په هغو سیمو کې چې ګډوډۍ او کړکېچونه پکې زیات دي، په تېره بیا اسلامي نړۍ کې، کډوالي ورځ تر بلې زیاتېږي.

همدا اوس په نړۍ کې تر ټولو زیات کډوال مسلمانان دي. د بېلګې په توګه د سوریې او عراق د خراب وضعیت له کبله سلګونه زره وګړي ګاونډیو هېوادونو ته کډوال شوي؛ افغانان هم چې له ۱۹۷۹ کال راوروسته نورو هېوادونو ته کډوال شوي، ډېره برخه یې اوس هم هېواد ته نه دي راستانه شوي.

دا مهال په پاکستان کې د افغان کډوالو موضوع د دوو لاملونو له مخې یو ځل بیا توده شوې؛ یو دا چې د ۲۰۱۵ کال په دسامبر میاشت کې د قانوني افغان کډوالو (څوک چې راجستر شوي او د کډوالۍ کارډ ولري) د کارډونو نېټه ختمېږي او دویم لامل یې هم د پېښور وروستۍ پېښه ده. که څه هم د پاکستان د سرحدونو وزیر عبدالقادر بلوچ ویلي وو، چې افغان کډوال باید د ۲۰۱۵ کال تر پایه خپل هېواد ته ستانه شي؛ مګر د پیښور له پېښې وروسته، د خیبر پښتونخوا حکومت د افغان کډوالو د وتلو لپاره، یوه میاشت ضرب الاجل ټاکلی.

### شالید:

پاکستان ته د افغان کډوالو لومړی پړاو د اسلامي نهضت له ۵۴ کال عملیاتو مخکې پیل شو، هغه مهال کابو ۳۰۰ تنه پاکستان ته کډوال شوي وو. د ثور له کودتا سره د کډوالۍ دغه لړۍ ګړندۍ شوه او په پاکستان کې د افغان کډوالو شمېر له سلو زرو واوښت؛ وروسته چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ، نو کابو نیم افغانستان اړ شو چې پاکستان او نورو هېوادونو ته پناه یوسي.

د شورويانو د يرغل پر مهال (۱۹۷۹-۱۹۸۹) په پاکستان کې تقريباً پنځه مليونه افغان کډوال مېشت وو. د شورويانو له وتلو سره يو شمېر افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شول؛ خو د کورنۍ جګړې له پيلېدو سره يو زيات شمېر افغانانو يو ځل بيا پاکستان ته مخه کړه. د سپتامبر د ۱۱مې له پېښې وروسته، کله چې په افغانستان کې د لنډمهالي نظام بنسټ کېښودل شو، سلګونه زره افغانان بېرته هېواد ته راستانه شول.

په ۲۰۰۷ کال کې UNHCR په مرسته په پاکستان کې د افغان کډوالو راجسترېشن پيل شو، چې له مخې يې ۱.۷ مليونه افغانان راجستر شول او د (افغان ښاري) په نوم کارډونه ورکړل شول. دا کارډونه په ۲۰۱۰، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو کې نوي شول، چې د اوسنيو کارډونو وخت د ۲۰۱۵ کال په دسامبر کې پای ته رسېږي.

## د کډوالۍ نړيوال قانون او پاکستان:

د بشري حقونو د نړيوال قانون[1] د ۱۴مې مادې له مخې، د هر هغه وګړي حق دی چې د ظلم-زياتي پر مهال په بل هېواد کې پناه واخلي.

د کډوالو په اړه د ملګرو ملتونو د ۱۹۵۱ کال قانون[2] د Non-Refoulement يا عدم اجبار د اصل له مخې څوک نشي کولی، چې کډوال په اجباري ډول خپل هېواد ستنولو ته اړ کړي. دا چې پاکستان دغه قانون تراوسه نه دی توشيح کړی؛ نو ځکه پرې د نړيوال قانون له خوا څه فشار نشته[3].

د نړيوالو قوانينو د دوو پاکستانيو څېړونکو (محمد منير او مشتاق احمد) په اند، په پاکستان کې له افغان کډوالوسره نه د اسلامي شريعت له مخې چلند کېږي او نه هم د کوم نړيوال قانون له مخې؛ بلکې اسلام اباد له دوی سره په ۱۹۴٦

[1] Universal Declaration of Human Rights

[2] Convention relation to the Status of Refugees adopted on 28th July 1951 by the United Nations Conference of Plenioptentiaries on the status of Refugees and Statless Persons.

[3] د زياتو معلوماتو لپاره ولولئ، د افغان دکتور احمد خالد حاتم د ماسترۍ رساله:

Hatam, Ahmad Khalid, Non-Refoulement and Pakistan's Go-Home Attitude: A Case Study of Afghan Refugees, LLM Thesis, Islamabad: International Islamic University, 2009

کال کې د بهرنيو وګړو لپاره جوړ شوي قانون له مخې تعامل کوي[4]. که څه هم پاکستان د ملګرو ملتونو نړيوال قانون نه دی توشيح کړی، خو د ډيپلوماتيکو اړيکو او اخلاقي لحاظه اړ دي، چې افغان کډوال په زوره له خپل هېواده ونه باسي.

د افغان کډوالو د بېرته ستنولو لپاره بايد يوه جامع تګلاره جوړه شي او د افغانستان حالاتو ته په کتو سره او دلته د هغوی د مېشتېدو لپاره د زمينې له برابرېدو سره بيا د دواړو لورو په ګټه ده، چې کډوال افغانستان ته ستانه شي. په افغانستان کې د ناامنيو پراختيا او د کاري زمينو نشتوالی د هغو ستونزو په کتار کې راځي، چې له امله يې په اوسني وخت کې د افغان کډوالو بېرته راستنېدل ستونزمن بريښي. له بلې خوا د افغانستان دولت هم له اقتصادي پلوه د دې جوګه نه دی، چې په سملاسي ډول د دومره زيات شمېر افغانانو لپاره چمتووالی ونيسي؛ نو ځکه بايد د افغانستان دولت له پاکستان سره، چې د اشرف غني له واک ته رسېدو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې هم ښې شوې دي، يو رغند تفاهم وکړي.

پای

---

**ارتباط با ما:**

ايميل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سايت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)

---

[4] Khalid Rahman and Fakiha Mahmood (editors), International Refugee Law, Islamic Shariah and Afghan Refugees in Pakistan, Institute of Policy Studies, pp: 43-44